

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته غوږ ونیسه دکوم سرې اعلان دی
غږ به وشي ستا حقدارملنګ روان دی

جنازه به مې وتور لحد ته یوسي
ته به وایې ما ورپرېږدئ زما جانان دی

یوه ورځ به ارمان وکړې وخت به تېر وي
بیا به وایې اف ښځې زیات مې ارمان دی

تا مئین کړم، تا ایله کړم، او د بل سوې
خیر دلبره دځوانۍ دي مست دوران دی

هغه وخت دي بیا ژړا ده بې قیمته
چې خبر شې ستا ملنګ خزان خزان دی

مُلا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستوري شمارمه ولاړ راته فلک دی
زړۀ مې درد کوي بې واره يې ټک ټک دی

پښتنانه دې انجلۍ يې بل ته ورکړه
دا په دار پوري را ځوړنده هلک دی

زه يــم تــږی د لالــي ددوو خــبــرو
دادی مرمه خو يار بيا هم په زړۀ کلک دی

آئينې ته په ژړغونې غږ قائل سوم
دا زه نه يم، زما پر خپلې ځوانۍ شک دی

خپل خپلوان يې لټوي په نيمه شپه کې
ستاحقدارستا په کوڅو کې مدام ورک دی

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د بايللو ارمانونه کوي
ها پښتنه پېغله ويرونه کوي

اُف چې د بل سوه، د هغه باوجود
بس مسلسل راته زنګونه کوي

اوس مې يو بل ښکلی په دام کې اخلې
لکه زما تللی يار لوظونه کوي

ستا وحشتناکې تورې سترګې ګله
زما پر معصوم زړګي ظلمونه کوي

عجيبه وخت دی، ته دا ښکلي ګوره
اوس پر ملا حقدار نازونه کوي

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


واده دې وکړ او د مينې انتهاء دې وکړه
زه دې تنها کړم ياره بل رنګه خطاء دې وکړه

تا خو تر مرګه د يارۍ وعده راکړې وه خو
منزل کې پاته سوې او نيمه کې جفا دې وکړه

تا قتلولم خو د مرګ نيته مې نه وه پوره
چې زه دې وليدم خاوند سره خندا دې وکړه

تا د پښتو بد رواجونه پر ځان ومنله
د پلار خبره دې منظوره کړه حيا دې وکړه

ما ويل خدايه ما تر مرګه د يار غيږ کې
پر يږده
خو تا ويل حقداره مړ شې دا دعا دې وکړه

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ ارمان مې پوره نه سو زندګۍ کې
ملګرتیا ده د ط ټکی غریبۍ کې

خپله ګرځي د ابلیس تورو جامو کې
خو شکمن وي زما ښایسته مسلمانۍ کې

پس له مرګه به مجنون ته داسې وایم
ښه پوره یم زوربېدلی عاشقۍ کې

زما او ستا د رسېدو فکرونه ګله
ګله ګله یې پوره کړم تنهائۍ کې

زه حقدار یې د کور شاته انتظار یم
زندګې او عاشقې ده فردېسۍ کې

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


لېونتوب مې ستا دمينې برکت دی
لېونتوب مې دغمونو محبت دی

لېونتوب نه مې خبر يې او کنه يې
لېونتوب مې اوس جوړ سوی عبادت دی

لېونتوب مې ټول وجود محاصره کړ
لېونتوب مې ګل ځوانۍ باندې قيامت دی

لېونتوب له مئينتوبه پيدا کيږي
لېونتوب مې مئينتوب نه امانت دی

لېونتوب خو ستا مُلا زره زره کړ
لېونتوب خو له حقدار وړی طاقت دی

مُلا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ے)

ببلتانه یې رانه جوړ کړ لېونی
نه مې هېر سو نه هېرېږي یو سړی

تا زده کړي دوعدو هېرول ښه
په وفا کې درنه مخته دي زموږ سپی

په مُلا او په دې نورو یې زموږ څه؟
موږ ترې غواړو خپل وطن لکه غمی

چې خبره دوطن خلاف کوي
بس له خدای نه مې هم غوښتي دی ګونګی

پرون مینه، نن غمجن، راتلونکي اف
نو مجبور یم انتخاب به کړم مرګی

ما کړه ګل غوندې ځواني په اور پسې
زه اوس هم یم ستا په سترګو کې ازغی؟

خیر اوس هم نه دي پښېمانه ستا حقدار
وائي اوس هم درنه جاااار، درنه لوګی

مُلا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته چې ولاړې زندګي په دوې روپۍ سوه
ښکلي ډېر وو خو ځواني په دوې روپۍ سوه

چې پوره کال کې مو يو ديدن ونه سو
بس پر ېږده يه عاشقي په دوې روپۍ سوه

هغه پېغله دی په ياد ده او که نه ده؟
و بوډا تې ورکوي په دوې روپۍ سوه

زليخا چې پر يوسف (ع)سوله مئينه
دمصريانو پاچاهي په دوې روپۍ سوه

معجزې چې دموسی (ع) سوې را څرګندې
دفرعون ټوله خدائي په دوې روپۍ سوه

هر مئين دي ځانته يار پر کاغذ جوړ کړئ
مصور واي رسامي په دوې روپۍ سوه

ښا نو تا چې ځان ته بل ځوان انتخاب کړ
دحقدارملنګ خواري په دوې روپۍ سوه

مُلا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي وعدې دې نور يې مه ماتوه
ښه فيصلې دې نور يې مه ماتوه

هغه د حُسن پير ته ووايه چې
زړونه کعبې دې نور يې مه ماتوه

که دومره نر يې خپل اعمال دې سم کړه
آئينې ښې دې نور يې مه ماتوه

که ختموې نو ميخانه دې قلف کړې
دا خو پيالې دې نور يې مه ماتوه

ستا د حقدار نور اميدونه نشته
هيلې يې مړې دې نور يې مه ماتوه

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځــل بله فیصله کــوم لګیا یم
صرف د خلکو تماشه کوم لګیا یم

یو بل ښکلي دعوت کړی یمه عِشق ته
هر ماښام استخاره کوم لګیا یم

د محفل یاران مې ټول راته غوږ غوږ دي
د سپېڅلي عِشق قیصه کوم لګیا یم

هرې پېغلې ته حقوق د نکاح ورکړئ
پــښــتــنــو تــه دا نعــره کــوم لــګــیا یم

د حقدار په خبر یې زړونه دي مات شوي
څــو مئینو تــه ټــپــه کــوم لــګــیا یــم

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


یارانو خپله مفلسي مې وژني
د غربت ډکه زندګي مې وژني

بې وفا نه وم، خو بدرنګه ومه
ځکه باللې عاشقي مې وژني

سپوږمۍ قربان دې سم خبرې وکړه
بیا نیمه شپه سوه تنهائي مې وژني

زه له هر ښکلې صدقه صدقه
مګر د ښکلو مغروري مې وژني

زه زړه منلي یار رټلی یمه
حقدار ملنګه بې وسي مې وژني

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترگو ایښی ورته مخامخ یو ښار دی
زړهٔ د حُسن ښاریه کې خریدار دی

نفرتونو څخه ظلم پیدا کیږي
محبت د رحم دِله خلکو کار دی

بې تعلیمه ژوند په سپینه ورځ کې شپه وي
د تعلیم ژوندون په شپه کې سپین سهار دی

ښکلې ځان ساتې د عِشق له زندانه
صوفي ناست داسې کارونو ته عیار دی

فکر نه کوم چې دا حقدار دې روغ شي
یو ظالم ښکلې پرې کړی انفجار دی

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سرِی بیخی غمجن دی، خو مړ نه دی
ستا په تنګ پر زکندن دی، خو مړ نه دی

خالق حُسنِ ظاهرې ورته بخشلی
تور یې زړهٔ سپین یې بدن دی، خو مړ نه دی

شکر لبې، سیاه زلفې، ګل اندامې
ده ویلی دغه فن دی، خو مړ نه دی

ستا نامه یې لکه ذکر ثوابې کړ
هر سړی اوس پرې شکمن دی، خو مړ نه دی

مؤمن خان د شیرینو په ارمان مړ سو
ستا حقدار ستا ارمانجن دی، خو مړ نه دی

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوې پېغلې ځوان خوښ کړی، خو پېغور دی
زموږ د بد رواج په مُهر يې مخ تور دی

ما خپل کډه د غروب طرف ته وړې
د اشنا د لمر خاته پر طرف کور دی

شايد بيا درخو وې ناز وربانديې کړې
د ادم د رباب غږ دی او ښه شور دی

چې هر چا يوه زره مينه راکړې
دا احسان يې تر قيامته پر ما پور دی

حقدار خپل تر وسه دومره مينه کړې
هر ملګری يې نظر کې لکه وروړ دی

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژاړي او میده میده ګیلې کوي
خپل د ارمانونو جنازې کوي

دغه ډالرې قاضي دي خدای واخلې
څومره دروغجنې فیصلې کوي

جار پښتنې پیغلې محترمې دي
دا خو پنجابۍ بې ځایه شپې کوي

ذات د ښکلو دغسې جوړ سوی دی
هر وخت خپل مئین باندې نخرې کوي

ستا حقدار اوس دومره تنها سوی دی
ناست دی د خپل ځان سره ټپې کوي

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورک مضمون د محبت له صحیفې یم
داسې شخص ددې بدرنګې زمانې یم

چې دوه زړونه بېلوي فاعل کافر دی
زه مفعول د یوې داسې حادثې یم

پیغلې هیلې یې بدې کې رانه ورکړې
جای قرار اوس د خاموشې هدیرې یم

غیبتونو ته اوزګار پښتانه ناست دي
خریدار د یوې ګونګې آئینې یم

تول د حُسن قائلین حقدار را غوښتي
بیا سرمسته کاروان درومې ورپسې یم

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه بې یاره بې رویباره ښه یم یاره
ته په ښولو ښاریو کې ژوند اباد کړۀ

زه به سپین زړګی په تورو خاورو موړ کړم
ته د خلکو تورو زړو کې ژوند اباد کړۀ

زه به هر ارمان ته جوړه هدیره کړم
ته په جوړو هدیرو کې ژوند اباد کړۀ

زه به تاته آئینې را ښولومه
ته په حُسن او نخرو کې ژوند اباد کړۀ

زه به ستا موریدانو کې حساب یم
ته حقداره په دمو کې ژوند اباد کړۀ

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا بې رحمۍ جدائۍ مې رنګ تک تور کړ
نه هندو يم نه نشه کوم لالیه

نيت مې کړی چې څلويښت کتابه چاپ کړم
ستا پر حُسن تبصره کوم لالیه

داسې نه ده چې تا بل ځوان انتخاب کړ
زه له خپل نصيب ګيله کوم لالیه

فکراً ستا د واده ورځ ده شر او شور دی
درته ناست يم تماشه کوم لالیه

د حقدار سترګو کې ډنډ اوښکې ولاړې
په محفل کې ستا کيسه کوم لالیه

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورته ګوري ورته ژاړي لېونی
مات يې وليد ديو چا د لاس بنګړی

مابه دومره حفاظت د يار کولای
لکه لاس کې د ياقوتو سور غمی

ته په ټکنده غرمه کوي خوبونه
ستا ديدن ته انتظار دی يو سړی

مؤمن خان په ځومره هيلو ورته راغلی
پر سينه د شيرينو ناست وو مرګی

که دې خوښه وي چې بيا ګودر اباد کړې
ستا حقدار به درته واخلمه منګی

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملنګه نه وې آئيني د خلکو
ملنګه څه وې ارادې د خلکو؟

ملنګه خپل ژوند ته دې فکر وکړه
ملنګه پربړده تماشې د خلکو

ملنګه مه پربږده نفرت وطن کې
ملنګه وکړه فيصلې د خلکو

ملنګه کيږي د بنده عبادت
ملنګه دادې عقيدې د خلکو

ملنګه دا حقدار دې م.ر حساب کړه
ملنګه اورم اوازې د خلکو

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


څنګه زړۀ وکړمه، او څنګه محبت وکړمه؟
چاچې وژلی یم د هغه یار صفت وکړمه؟

لیلا پالل د پښتنو بد رواجونه هر وخت
ځان به منصور کړم، او مجنون ته به غیبت
وکړمه

بیا به په ټول عمر د مینې نظر نه ساتمه
داخل که جوړ سومه د ځان به حمایت وکړمه

دیدن قضاء شو نو رویبار ته مې هم ونه کتل
چې فرض قضاء شي، څه دپاره به سنت وکړمه؟

حقداره مینه مې سوه لنډه، لکه لمونځ د مَیَتْ
اشنا جدا شو زه یې کوران که مغفرت وکړمه

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن مې نشې ته زړګی شوی دی لړ بنګ لټوم
ودې بدرنګې زمانې ته تللی رنګ لټوم

څکه په نیمه شپه کړ ځیږمه پر جګو غرونو
دیار دتورو زلفو مِثل ته لونګ لټوم

مولوي څه وايي فتوی څه ده او حکم څه دی؟
زه اوس هم کړ ځمه دتورو سترګو جنګ لټوم

دومره تنها یم چې خپل قبر ځانته خپله کیندم
یو وجود ځمکه یوه بېلچه او یو کولنګ لټوم

موږ ته فرق نه کوې هر څه چې وې بس شور دې
کوې
دمستو تورو، او یو څو بنګړیو شرنګ لټوم

هر ځل چې مینه وکړم سمدستې ناکامه راشم
دا ځل بریا راوړم دمینې بل فرهنګ لټوم

خدای خبر بیا په کومو خاورو کې بیده پاتې دی
څو ورځې کیږي لېونی حقدارملنګ لټوم

ملا حقدارملنکوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


درقيبانو دا خبرې عجيب زور راکوې
ماته پر کړې محبت باندې پېغور راکوې

دحسدګرو خو دې رب ذوالجلال کور تباه کړې
زه يې ديدن ته ځم خو دوی پر لمن تور راکوې

اصلاً خو مړ يمه بې حسه يم دشور نه يمه
دا ستا راغلي مېلمانه غمونه شور راکوې

صاحبه زه دداسې خلکو سره ژوند تېروم
څوک مې زخمونه شيندې څوک راته ټکور راکوې

حقدار ملنګ نن په سلګيو راته داسې ويل
له رقيب غچ اخلم که څوک ژوندون په پور
راکوې

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


پر سر یې بیا دکوم جابره سرې پښه پرته ده؟
هغه یاغې مسته ځوانې ولې نشه پرته ده؟

راځه چی لاس په لاس روان شو سره ورک چې نه شو
مزل لا پاتې دی په مخ کې لویه شپه پرته ده

مونږ دوختونو خلک نه کوو کم اصله عمل
صاحبه زما اعمال نامه درته چپه پرته ده

ها دپرون قاضې والله درته مجرم ثابت کړم
زما سره هره یوه کړنه نوشته پرته ده

نو زه مجبور شوم چې آئینه دزمانې واخلمه
چی ستا دسترګو آئینه علیحده پرته ده

پام چی قیصه دوحشتونو پکښی یاده نه کړې
شپونکیه ستا دشپېلۍ غږ ته خو رمه پرته ده

حقدارملنګه خو قیصې دمحبت کوو نن
د یار د یاد ډېوه ګۍ بله می پر زړهٔ پرته ده

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا منمه هر یو ښکلی محترم دی
چې ظالم وي نو لائق دجهنم دی

له اولاده یې حقوق دنکاح سلب کړ
نه اولاد دی دحوا نه دادم دی

زه بې وسه نیمه شپه کې په ژړا سم
دزړګی په وینو سور مې هر قدم دی

زه حیران یم چې پر تا ثخنکه مئین سوم ؟
زما پر حال باندی والله پکار ماتم دی

خود به ناست خفه خفه وې په محفل کې
له حقدار ملنګه تللی خپل صنم دی

ملا حقدارملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زندګۍ چې بې دلبره سوه پرېږده يه
ښه ياران چې بې باوره سوه پرېږده يه

دا منم چې پښتون راج پر مغل وکړ
پنجابيان چې معتبره سوه پرېږده يه

په پنځه زره کلن تاريخ نازيږو
پښتانه چې بې رهبره سوه پرېږده يه

دتکبير نعره دجنګ ميدان کې خوند کړي
دا نعره چې له ممبره سوه پرېږده يه

که سبا سبا کوي نو انتظار شه
وه حقداره چې منکره سوه پرېږده يه

ملاحقدارملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېونی سوم لېوني راباندې ښول دي
څو جانداره پروني راباندې ښول دي

بې مطلبه یاران تورو خاورو ښکل کړل
دا ژوندي څو مطلبي راباندې ښول دي

زما گمان وو محترمه انسانان دي
وروسته پوه سومه چې سپي رابانده ښول دي

زما دسختې ورځې دغه کیفیت دی
خپلوان ورک دي ښول پردي رابانده ښول دي

ستا حقدار ملنگ به ولې ژړا نه کړم ؟
ستا غمونه ځي راځي راباندې ښول دي

ملاحقدار ملنگوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


یم د یار په یوه غږ پسې رنځوره
لږ خو وغږېږه اې د یار انځوره

زموږ په چم کې حق ویل لویه ګناه ده
ظالمانو ستا ملګری کړم منصوره

پلار په زور یمه ورکړې نا خوښ ځوان ته
رواجو د پښتنو کړمه مجبوره

صرف د یو او بل وژلو کې جنت دی؟
خدای حاضر دی هره لار کې بې حضوره

زه حقدار به د شعور کتاب تدریس کړم
پښتانه دي بې قلمه بې شعوره

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وار خطا یمه خاموشه شبِستان ته
مشابه دی نړیدلې قبرستان ته

مسافر مرغه دبل وطنه راغلم
لږ مې پرېږده د خپل زلفو ګلستان ته

ستا د حُسن شرابې پیالو ته ناست یم
ساقې ور مې وړه د شونډو کفرستان ته

مرګوني لښکري ناستې په مورچل کې
څوک دې نه راځې زخمي افغانستان ته

درخو ناسته د ادم رباب ته غوږ ده
څوک به غوږ سې د حقدار وشعرستان ته

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې د ډېرو خلکو یاره سلامونه
د بایللې یار رویباره سلامونه

قوم بیده دی د قیام کتاب دې چاپ کړه
د پښتون قوم ستر سالاره سلامونه

غوارم مرسته د مئینو خلکو وکړم
د بنګړیو دوکانداره سلامونه

بخښه غوارم نیمه شپه وه ته بیده وې
زړه مې ډېر وو ناقراره سلامونه

بېګاه داسې د یوچا پیغام راغلی
له ما ورکه زما حقداره سلامونه

ملا حقدار ملنکوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


مور یې د زړګي په رنځ اخته کړلو
دوي له انسانیته پر شا تللي دي

هر بدرنګه هر الزام منلی دی
ښکلي بدهمته پر شا تللي دي

ډیرو پکشې خپله زندګې ورکړه
ډیر له محبته پر شا تللي دي

پاتې یې پر زړهٔ باندې تور ټکی دی
ډیر له عبادته پر شا تللي دي

چاچې د حقدار په حق جرګه کول
ټول له هغه نیته پر شا تللي دي

ملا حقدارملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library


سلامونه سلامونه کليوالې
را نيږدې نه کړې لاسونه کليوالې

ستا په تنګ مې دغه دوې يارانې وکړې
موسيقي او غزلونه کليوالې

د يادداشت په کتابچه کې مې ليکلي
ستا راکړي جوابونه کليوالې

چې قاضي د قسمتونو سره بېل کړو
په درد نه خوري پيغامونه کليوالې

ستا حقدار چې سپين کفن کې منظم شي
بيا ترې مه اخله عکسونه کليوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library


زړه چې کوي نو ګوره خېر کوي
ستا ده نوم ذکر ستــــا بغېر کوي

ته خواوس هم کښ مښ هغه رنګه یې
کوم چی ده زهن پرپلو سېر کوي

عشقه زما خیالات دی چاته ورکړل
څوک چی ده زړه په کورګي پېرکوي

یوه زره دعا ده مور ده خولګي
تر آسمانو ده لاري طېر کوي

دتعیقبیت ورسته دی هم خاکساردرد
ده تګ راتګ انتظار ډېر کوي

ح خاکساردرد

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاسته راوړنه کی دی یار مړ دی
ستا محبت کی ستابیمار مړ دی

څنګه لاشــک وکړمه ستا په جفا
ده زړه په کور کی اعتبار مړ دی

که راضي نه یې کړه دی حکم بدل
کډه سپرلي کړې بهار مړ دی

اوس دی سینګار ته زړه ورغوارې کنه
اوس خودی هغه طلبګار مړ دی

وعدې دروغ شوې قسمونه دروغ
یعني ستا هر قول قرار مړ دی

ده خاکساردرد دژوند صفحه کی لیک وو
ده لفظو مرګ راغلی اظهار مړ دی

ح خاکساردرد

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې هم په عِشَقْ کې نقصان ولو
څيري مې له وخت څخه ګريوان ولو

ځان لکه ډېره جوړول مشکـــــل
ستا هجر وماته ډېر آسان ولو

زما په درد اودکه دې څه ترلاسه کړه
ووایه چې زړه دې پسې وران ولو

څه شک په دنيا دنيا هغه ده خو
رنګ دې دخيالونو دنګ آسمان ولو

سترګو ته دې سترګې ورنږدې کړلې
دادې په ژوندون کې لوی ارمان ولو

شوه له صداقته يې خوشبويي ختم
ستا خاکساردرد ستا پرپله روان ولو

ح خاکساردرد

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخر ځل یې غاره راکړه پر څهره یې پریشاني وه
که کرداریې ولو ښکته خو له شکله انساني وه

بس سبب ده جداي یې ویېئ نشو چف ولاړه
شاید خپل دکورني کړې ادا باندي راضي وه

حیران نه یمه په قول وقرار یې چی ځې وکړل
ځکه رسم دنیا جوړ له اول بې وفایي وه

اور اوبه که دوښمنان دی له ازله یوله بله
له هغې سره ملتیا هم زما لویه ناداني وه

که جداشوله هغه خوبیاهم کوم یونقصان نه دي
که یوځائ وائ خاکساردرده خو بیاهم دنیافاني
وه

ح خاکساردرد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنن درد دسبا ورځي کاميابي ده
داخبره مي په زهن کی تابان شته

ما په خپل شکونو شک کړي دی ځکه
جوړونه دژوندون يې په بنيان شته

ده تاريخ بستر بدل ده تل لپاره
په وجود کی می له روح سره ايمان شته

سلګکۍ ده زکندن می شروع کيږي
ده يس ويو ته شپاړس حافظان شته

دعاوکړه موري لاس لپه کړه رب ته
دبچي دی يو کور بل په قبرستان شته

فاتحه يې پر خلـــورو مسجـــدونو
هرمسجد کی يې پنځه پنځه ياران شته

ده ډبرو به لټون کی الماس بايلي
په نړي کی بعضي داسي ناپوهان شته

چانس ده هرچادروازې ته راځي خپله
خاکساردرده په ورتګ کی دی تاوان شته

ح خاکساردرد

(c) ketabton.com: The Digital Library


اې ناترســــه زه دی پرې ښودم وچاته
رانه ورک شوې رانه لاړې کومې خواته

ده غضب ټال لاهو کړمه ستاکړنو
چی رخصت شوې ودې نه کتله شاته

اضطراب اوناخوبــۍ سره عادت شوم
ده ژوندون ده جوړښت ټولې قصې پاته

ارمانونه می ده ژوند دانه دانه شول
هرارمان می امیــــدوار ولو وتاته

حافظه کی می ځاۍ درکړو بې مطلبه
خاکساردرد وایم کم اصله وې له زاته

ح خاکساردرد

(c) ketabton.com: The Digital Library



یم جل وهلئ دې دښتوکی می مرګئ ونه خوري
لکه مرغه بل خواته تلوکی می مرګئ ونه خوري

الزام ده قتل یې په سربانديي اوښتئ زما
ده زهرو غرېپ په تیرېدو کی می مرګی ونه خوري

ده محبت قیصه خو نه مري مګر داخبره
ستاد کردار په ختمېدو کی می مرګي ونه خوري

کورته رسیږي زما په شان یوبل رنځوره سرې
واي لدې ښاره په وتو کی می مرګئ ونه خوري

زه خاکساردرد یم مسافر ده هغه ماتي کښتي
ده سمندر سختو څپو کي می مرګئ ونه خوري

ح خاکساردرد

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دکه اخته دشپې نیمۍ او سپوږمۍ
سخته صحنه دشپې نیمۍ اوسپوږمۍ

لاس ښورونه او رخصت اخیستل
ده مرګ څپه دشپې نیمۍ او سپوږمۍ

خبرې زده وې خو کولې یې نه
یوه کلمه دشپې نیمۍ اوسپوږمۍ

زما په هیلو باندې اور پورې کړو
کړې وعده دشپې نیمۍ او سپوږمۍ

دیاد کوڅو کې ده حارس په شانې
کول ګزمه دشپې نیمۍ او سپوږمۍ

وه خاکـــــساردرد تې په کتو کې ویل
دعاکوه دشپې نیمۍ او سپوږمۍ

ح خاکساردرد

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی په کومه ورځ مې مړسو غریب زړه
رڼا ورکه په هرلورسوه توره شپه

اول څه پوه ومه زه په حال ده مرګ
اوس می ولیدو په خپل خوارژوندانه

دا دکوم جرم سزا وله په عشق کی
رانه ورک یی کړو ده دوو سترګو کاته

اوس یې پیم ده زنځیرپه شان خبري
هریوبند کې شي لامده رانه بانه

هرصفت چی یې فراق دی خاکساردرده
ستابې کچه محبت کړو بیل هغه

ح خاکساردرد

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړهٔ مئین سي، څوک دي خوښ سي، بیا جدا سي
زړهٔ تنکون سي، شپه اوږده سي، خوب تباه سي

خداي دی واخله،ژونده ژونده، په عذاب یم
ښه پوهېږم، یار د بل سو، خدای که را سي

زما قسمته ځوانیمرګه چې یاااار نه وي
زه یې څه کړم که دا ټوله دنیا زما سي

اوس رويبار هم مغرور سوی راستي نه کړي
اوس چې هرڅو کاغذ ورکړم، بس پناه سي

نــن یـــې وکـــړه ښـــه پـــه نره دا خبــــره
حــقدار زمـــا دی خـــو چـــې کله هم مُلا سي

مُلا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرم نرم به مې زړۀ قرار ته راشي
زما بايللى يار که نن سهار ته راشي

زه به بيا هم په هغه مينه ور گورم
که د لسو بچو مور وې لار ته راشي

دې ملنگ د زندگۍ سامان ټول کړی
ناممکنه ده چې بيا به ښار ته راشي

خير په ژوند که مې پوښتنې ته رانه غله
پس له مرگه به مې خړ مزار ته راشي

که ژوندی وم او د تللې يار پکار شوم
اجازه ده چې بيا هم حقدار ته راشي

ملا حقدار ملنکوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیرته به په زړۀ غمجن له دومره ډېر خفګانه وای
کاش چې زه هم ستا غوندي بې درده بې جانانه وای

ستا پر محبت باندي ایمان نسته دوکه کوې
ما به ته هېر کړی وې که زه هم بې ایمانه وای

زما په میلیونونو انسانانو کې یو ته خوښ یې
ستا که چیرته خوښ وم نو به زما پر څنګ روانه وای

لاس په لاس روان یم د ارمان د جنازو سره
یو دیدن دي غوارم بیا که برخه د بل ځوانه وای

لمونځ به یې حتمي کولو زما په اوریدو سره
حقداره چې یو لفظ د ملا له خوړ اذانه وای

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رنګونو تماشه چې پر جهان شي
څوک خوشحال شي او څوک ژاړي په خفګان شي

وایه څه وکړمه څه ته ضرورت دی
چې یوښکلی را مئین شي او جانان شي

بې لتا مې د زړهٔ څړیکې نه رغیږي
که حاضر راته دا ټوله طبیبان شي

چې زموږ پیغلې د ولور په نوم خرڅیږي
ښه نو ځوان به څنګه ښاد شي او ودان شي؟

ددیدن په طمع درشې ستا تر کلي
ستا حقدار خو په سلګو سلګو روان شي

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملنګه، ژوند جنون دی فلسفه ده
ملنګه، ژوند د هیلو هدیره ده

ملنګه ژوند مې مه پوښته چې څه دی
ملنګه ژوند د ستونځو خزانه ده

ملنګه ج.نک واره ماشومان وژني
ملنګه خوږه مور یې پښتنه ده

ملنګه خپل خپلوان مې ناکام غواړي
ملنګه دا بیا داسې زمانه ده

ملنګه رغول د زړونو زده کړه
ملنګه د حقدار دا توصیه ده

ملا حقدار ملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمطلب په یارانې مې سر خلاسیږې
دیارانو په دهوکې مې سر خلاسیږې

هر سبا یې انتظار کوم په مینه
ددروغو په وعدې مې سر خلاسیږې

ده هندوانو عقیده مې تائید نه کړه
وهر خدای ته په سجدې مې سر خلاسیږې

خلک وایې دپښتون نسل کشي ده
دملالې په ټیپې مې سر خلا سیږې

دیارانو کړنې هره شېبه وینم
په خیرنې آئینې مې سر خلاسیږې

نن یې وېل چې دهوکه باز یاران کفار دي
دمفتې په مسئلې مې سر خلاسیږې

دحقدارملنګ ریښتینې خلک خوښ دي
په بدرنګې زمانې مې سر خلاسیږې

ملا حقدارملنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خالقه: یوڅه راکړه خالي لاس ځم له درباره
خالقه: یا مې واخله یا مې وروله تر یاره

خالقه: داده ښکلو زړونه ولې دومره کلک دي؟
خالقه: موږ خو هره ورځ ویلیږو لکه واوره

خالقه: یوې پیغلې پښتنې مې زړګی وړی
خالقه: ته خو راکړې د اویا 0حورو7 سرداره

خالقه: زه پښتون یم هم پښتو پالم هم مینه
خالقه: د لاهور د پیغلو نه یم هواداره

خالقه: ښکلي ټوله د پیسو لالچ نیولي
خالقه: دوي یې غواړي له غریب ملا حقداره

ملا حقدار ملنکوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

منکر نه یمه د ښکلو له مذهبه
فارغ سوی یمه د عِشَق له مکتبه

د رندانو میخانه کې مې مقام دی
ځان ساتمه له شهرت او له منسبه

چې د یو ملګري حال و بل ته وایې
خدایه واخلې دا دوه مخې مذبذبه

داسې نه ده چې نسب مې معلوم نه دی
مشرف یم دپښتون قوم له نسبه

ما حقدار دی انتخاب د زړهٔ بایللی
نه غمجن یم او نه ژارم بې سببه

ملا حقدار ملنکوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر وخت د مکتب د کینتۍ زنګ پسې خفه یمه
ورک مې دی کتاب د قلم رنګ پسې خفه یمه

دلته د سندرو ابۍ مړه ده رباب هم کوڼ دی
څنګه غزل ولیکم؟ آهنګ پسې خفه یمه

توري تورې زلفې دې دچا لاس ته ورغلي دي
ناست لکه یتیم یمه ستا څنګ پسې خفه یمه

خدایه د ټوپک شپېلۍ دې ماته سې جن.ګ نه غواړم
بس خو د څلوورو سترګو جن.ګ پسې خفه یمه

خدای خبر چې بیا به کوم قا تل رانه م.ړ کړی وي
زه پخپل ملا حقدار ملنګ پسې خفه یمه

ملا حقدار ملنګوو

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**